مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند
۲۰۲۴/۰۳/۳۱

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۲۷۹مه برخه

بيا به د غرونو جانان نيسم
د ښار جانان په سرۍ ډول خرڅوينه

ويزه کنسل که، کور ته راشه
د زړګي سره ماشومان دې يادوينه

په تهمت کلي نه ړنګيږي
که ړنګېدی کابل به لوټي، لوټي ووته

په کټ کې ناست يې ليلا غواړې
په وچه ځمکه ماهيان چا نيولي دينه

د نويو لنډيو د خپرولو په لړ کې د دې برخې لپاره دا لنډۍ برابرې شوې دي:

جانان د بل د خولې سرۍ دی
اورم ژوندی دی، په ديدن پسې يې مرمه

په تهمت کلي نه ړنګيږي
که ړنګېدی کابل به لوټي، لوټي ووته

په کټ کې ناست يې ليلا غواړې
په وچه ځمکه ماهيان چا نيولي دينه

په ژوند دې غم ليدلی نه دی
ولي به سپين غومبري نه ګرځي مينه

اواز مې ډېر دی نه راخيژي
ستا د سيني لونګ مې تول خوړلي دينه

ويزه کنسل که، کور ته راشه
د زړګي سره ماشومان دې يادوينه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**زما د مینې جانان ته یې**
**که ټول جهان له ښکلو ډک شي څه به یې کړمه**

**نورې ښیرې به درته نه‌کړم**
**دومره خپه شي لکه زه چې خپه یمه**

**لاسونه کلک رانه چاپېر کړه**
**په هدیرو کې خلک ښېل، ښېل خښوینه**

**ما ته غمجنې کیسې مه‌کړه**
**زړه مې نرۍ دی، اوس به چیغې ګډې کړمه**

**د ناهیلۍ چاره دې وکه**
**تا په سپین‌ږیرو باندې سر وګرځاونه**

**پسرلی راغی ونې شنې شوې**
**زما د زړه ونې ږلۍ وهلې دینه**

**بیا به د غرونو جانان نیسم**
**د ښار جانان په سرې ډول خرڅوینه**

**پټې ته دواړه خونډې لاړې**
**په لاسو ساګ، په سترګو زړونه شوکوینه**

**په سرَطان دې خدای اخته کړي**
**چې له هېواده سره څوک جفا کوینه**

**اوربل یې ما دانه‌وانه که**
**د کنډوګې سیلۍ پرې ځان بدناوموینه**

**په لوړو غرونو کې مې ګورئ**
**له خپله کوره زه پخوا راغلې یمه**

**چېرته په غرونو کې مې ګورئ**
**له ابادۍ نه زه پخوا وتلې یمه**

**چې لیونۍ شوې پر ما راشه**
**د لیونو دارو په جیب کې ګرځومه**

**ته لیونۍ - لیونۍ ګرځه**
**خو چم کې ګرځه چې داډه دربانډې یمه**

که مو غوښتل چې د لیکوال نورې لیکنې له نظره تېرې کړئ، دا ځای کلیک کړئ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ